عبدالملک پرهیز

۲۰۱۰/۶/۱۰

# په لویدیزو هیوادونو کې د کورنۍ برخه لیک

دا دهغه کتاب نوم دی چې د ښاغلي عنايت الله سادات په پياوړي قلم په دري ژبه ليکل شوی دی. دغه کتاب ۱۳۳ مخونه او د سريزې سر بېره ۱۴ غوره سرليکونه لري. دغه کتاب په ښکلی ډيزاين کې خپور شوی دی . کتاب په لويديزه نړۍ کې د کورنۍ د جوړيدو او رامنځ ته کېدو بېلابېل تاريخي، ټولنيز ، کولتوري او اقتصادي حالات او پړاونه څېړي. د کتاب لومړۍ برخه تيوريتيکي څېړنو ته اړوند شوې ده، په دغه برخه کې د څېړنې ميتود، د مدرنېزيشن تيوري، د منفردولو تيوري ، دسيستم تيوري، د پېژاندنې يا ايدنتېتيېت تيوري،د ماترياليستي ګوتنيوني تيورى، دټولنې تاريخي تيوري او د جلاکېدو او بېلتون تيوري د کورنۍ د منځپانګې د روښانولو دپاره کارول شوې ده. د کتاب په دويمه برخه کې له ختيځ څخه لويديځ ته د کډه شويو کورنيو حالت څېړل شوی. ليکوال په پاملرنې سره هغه علتونه او عوامل په



ګوته کوي چې ددغه کورنيو ثبات او ټينګښت له ټينګ ګواښ سره مخامخوي او د کورنيو د له منځه تلو او ړنګېدو سبب کېږي. ليکوال په مادي نړۍ کې بې سارې پرمختيا په ټولنه کې د معنوي او اخلاقي ارزښتونو دکمزوري کېدو او له منځه تلو يو دليل بولي. هر څومره چې مادي ارزښتونه غښتلي کېږي په هماغه اندازه معنوي ارزښتونه کمزوري او کمزوري کېږي. معنوي کمزورتيا په خپل وار د کورنۍ د کمزورۍ سبب کېږي. ليکوال پر کورنۍ باندې د صنعتي انقلاب اغېز ته پاملرنه کوي او ليکي چې صنعتي انقلاب ټولنيز ژوند ته د ښځو لاره خلاصه کړه او د پانګوالۍ د ودې په انډول د ښځو رول د ټولنې په ټولو چارو کې پياوړی شو، له کورڅخه بهر د ښځو مشغولتيا سبب شوه چې کورنۍ هډونه سست شي. ليکوال همدارنګه پر هغه لارو چارو خبرې کوي چې د هغې په مرسته کېدی شي معنوي ارزښتونه پياوړي او د کورنۍ ستنې ټينګې شي.

په کتاب کې دټولنې په پايښت او پرمختيا کې د کورنۍ رول او ارزښت ته ځانګړې پاملرنه شوې او د کورنې د ټينګښت او پايښت پر اهميت باندې ټينګار شوی دی.

د کتاب غوره سرليکونه په لاندې ډول دي:

ـــ اجمالی بر پيدايش خانواده .

ـــ ساختار خانواده ها در.( يونان، روم، جرمن ).

ـــ خانواده های اروپائی در تحت شرايط فيودالی و تسلط کليسا .

ـــ گذار از " خانه " به "فاميل" و عوامل موثر بر قواعد ازدواج .( تأثير رينسانس،تأثير طرز ديد رومانتيک ، اثرات انقلاب صنعتی).

ـــ تکامل تدريجی و يا از هم پاشيدگی تدريجی خانواده .

ـــ توجيه نا درست از تشکيل اقتصادی فاميل .

ـــ رشد اقتصاد و دست يابی زنان به حقوق مدنی .

ـــ جنبش زن در کشاکش مباحثه ای تيوريک .

ـــ خانواده در معرض انحرافات جنسی و اخلاقی .

ـــ قانون ساختن جنايت به جای ريشه کن کردن آن .

ـــ آزادی يا اسارت جديد .

ـــ اضمحلال خانواده و آينده غرب .

ـــ سر نوشت فاميلهای معاصر به کجا خواهد کشيد؟؟؟ .

ماخذ

دغه کتاب چې ژور علمي او ټولنيز ارزښت لري لوستل يې ټولو ته ګټور ، اغېزمن او په زړه پورې بولم



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املايی و انشايی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.